عبدالغفارپوپل

تاریخ 17 / ۱۲ / ۲۰۰۸

# "فايننشل تايمز" دورځپاڼې چلونکي،او افغان ملګروته يې ګواښ ليک

د "فايننشل تايمز"په نامه انګريزي ژبې ورځپاڼې څو موده وړاندې داسې يو مضمون خپور کړ چې دژورناليزم په بې پلوه کورنۍ پورې ،ليکوالان ،خبريالان او نور قلم والوته يې بې ځوابه پوښتنې راولاړې کړې.

دغه ورځپاڼه چې له هېواد نه بهر په انګريزي ژبه خپرېږي،دکابل دامنيې قوماندانۍ دجنايي څېړنو پرمشر،"عليشا پکتياوال" پسې هغه تورونه او بې بنسټه ليکنې خپرې کړې چې منل يې هر افغان ته ګران وو.

دغه ورځپاڼه پرته له دې چې دژورناليزم اصولوته نظر وکړي،دافغانستان اوسني روان کړکيچ ته پام وکړي،د "عليشا پکتياوال "دژوند ليک،او په کاري برخه کې دهغه داجراتو په اړه داسې يوه ليکنه خپره کړه چې دعاقل او فاضل انسان دمنلو وړ نه وو.

" فايننشل تايمز"ورځپاڼه چې دانګريزانو له خوا خپرېږي، غواړي افغان ولس په وينو رنګ او ورکونومونو باندې په خپل مينځ کې بيا واچوي،دغه ورځپاڼه سره له دې چې هېڅ را سند او دلاس نبنه چې د"عليشا پکتياوال" جرم په ګوته کړي نه لري،سره له دې چې کره اسناد او مدارک چې حقيقي بڼه ولري،او په ترڅ کې يې دبناغلي "پکتياوال جرم په ګوته شي په واک کې نه لري،او ديوه هوايي ،او خيالي وړاندوينې په ترڅ کې يوه ناسمه ليکنه خپره کړې ده.

اصله خبره خوداده چې د دې ورځپاڼې کوم خبريال د"عليشاپکتياوال" د کړنو، اوژوند ليک په هکله تحقيقي رپوټ دحقايقو ،او دسترګو د ليدلی حال پر بنسټ که برابر کړی وي خو بيا سمه ده،مګر حال داچې نه د"فايننشل تايمز" دورځپاڼې خبريا په دې تحقيقي رپوټ کار کړی ،اونه کومې خاصې خبري سرچينې ، چې تش اوتې بوتې او غير مسلکي لارې ته ګام پورته شوي، او دا هغه ناوړه عمل دۍ چې ديوه افغان دبې عزته کولو لپاره ترسره شوی دی.

نو څنګه جوته کړو چې" فايننشل تايمز" ورځپاڼه ريښتيا وايي،او کوم تورونه يې چې په عليشا پکتياوال لګولي دي هغه ټول حقيقت لري،داهغه پوښتنه ده چې د دې ورځپاڼې د چلونکو جاغه شکولای شي.

د" فايننشل تايمز" رپوټ ته که لږ ځير شو دايو مطبوعاتي حرکت نه دی،اونه دژورنليزم له نړيوالو اصلوسره مطابقت لري،دغه مطلب د شخصي کينو،او د ډالرويه مټ خپور شوی دی،ورځپاڼه مکلفه ده کوم تورنه چې، د دوی له خوا پر پکتياوال لګول شوي دي،په اړه يې دافغانستان بې پرې او آزادو مطبوعاتو ته دې اسناد او مدارک ورکړي.

نن سبا دافغانستان يوشمېر رسنۍ هم له حقايقو څخه سترګې پټې کړي دي، او کومې خپرونې چې له بهره دافغانستان په اړه خپرېږي پرته له دې چې دوی ورباندې خپلې څېړنې ترسره کړي چې آيا دغه رپوټ چې بهرنۍ اړخ لري ريښتياده او که درواغ، چې له پلټنې وړاندې دهغه په خپرولو او لمن وهلو باندې لاس پورې کوي.

داهفه لويه ستونزه،او نيمګړتيا ده چې دافغانستان په يوشمېر مطبوعاتو کې شتون لري،يوشمېر افغاني مطبوعات چې په ګوندونو، او ټوپک سالارو پورې اړه لري هغوی تل هڅه کوی چې ډېرو وړو مسايلو ته په ډېره لوړه کچه لمن و وهي،بېلګه يې همدغه د"فايننشل تايمز" ناقص رپوټ کاپي کول او هغه ته پرداز ورکول ښودلی شو.

"عليشا پکتياوال" لومړی پوښتون منصب دار دۍ چې څوکاله پرله پسې په يو اداره او يوپوست کې خدمت کوي، ځينې کارپوهان او دچارو غښتلي مشران په دې باور دي چې،پرعليشا پکتياوال باندې دغه تور اودې ته ورته نور تورونه دسياسي کړيو له خوا لګول کيږي،او دا هغه تورونه دي چې ديوشمېراجيرانو او دپرديو دغلامانو له خوا دژبنيو، قومي اوسمتي اړيکو په چواکاټ کې دخپلو شخصي ګټو دتر لاسه کولو په موخه لګول کيږي.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

د" فایننشل تایمز" ورځپانه لومړی په خپل چاپي مطلب کې داسې یو لوی درواغ چې،علیشاپکتیاوال په دوبۍ کې فابریکې او نورې شخصي ځمکي لري چاپ کړی چې هر انسان ځان ته را کاږي، داځکه چې پکتیاوال خودافغانستان ټوله سرمایه نه ساتله چې له هغې نه ځانته له هېواد بهر مانۍ او یا سوداګریزې خونې جوړې کړي.

دې ته ورته ټوله لیکنه درواغ او له حقیقته لرې بنه لري،او د" فایننشل تایمز "ورځپاڼې ته دغه اوتې بوتې د کومې ډلې له خوا ور لیږل شوي دي،بله موضوع چې په کې لیکل شوی وو هغه داچې دپکتیاوال له دفتر نه څو پاڼې اسناد ترلاسه شوي چې د علیشا پکتیاوال دباندنیو جایدادنو یادونې په کې شوي دي کوم منطق به دا ډول تور ومني.

دلته نه یوازې دا چې د" فایننشل تایمز" ورځپانه تر نیوکو لاندې ده بلکه دهېواد هغه ورځپاڼې،او خبري سایټونه هم تر پوښتنو لاندې دي چې دغه مطلب یې پرته له دې چې تر دقیقې څېړنې لاندې ونیسي او بیا یې خپور کړي، چې پورتنیو یاد شو څانګو په خواشینۍ سر په پټو سترګو ،او بندو غوږونو لاس په کار شول،او په لوړه کچه باندې یې دې موضوع ته لمنې وغځولې.

اصلي خبره خو داده چې د" فایننشل تایمز" ورځپانه دې با ید دخپلې لیکنې دمنلو لپاره مونږ ته اسناد راکړي ،او که چېرته اسناد او شواهد نه لري نو لازمه ده چې د موجوده نړېوالو مطبوعاتي، اوحقوقي قوانینو په رڼاکې د"علیشاپکتیاوال" حقوق دې اعاده کړي.

ښکاره خبره ده چې په دې هېواد کې نیک نامه ژوندی،اوبدنامه مړی وجود نه لري، هرڅوک چې ښه کار وکړي هغه ته له دوست نه بد بین زیات پیدا کیږي،دعلیشا پکتیاوال په څېر ډېر داسې کسان نوردي چې دخپلو صادقانه کړنو قربانیان شوي دي.

بد بیني ،کینه او یو بل نه غوښتل له هغو مواردونه دي چې، افغانستان یې په اور کې سوځي،له هرڅه نه زیات پښتانه په دې لمبو کې لاهو دي،د دې منفي کړنو عاملین په نامه تش افغان او په اصل کې لوی غدار او وطن پلورنکي دي.

څونور ټکي دي چې د" فایننشل تایمز" له خوا خپور شوی رپوټ درواغ ښودلی شي، هغه داچې "علیشاپکتیاوال" تروا سه پورې دوبۍ ته بیخي تللي نه دی ، د" فایننشل تایمز "درپوټ پربنسټ یوڅوک چې دپکتیاوال په څېر دومره سرمایه، او فابریکې ولري او دهغه له کارونو څخه هم ځان خبر نه کړي ،نو داڅرنګه تجارت دی ، او دغه دلیل به څنګه ومنل شي.

په اوس وخت کې ورور پر ورور باندې اعتبار او اعتماد نه کوي،نو "پکتیاوال "په چا ا عتبار وکړي،هغه هم بیا په دومره غټو پیسو ،او فابریکو چې د" فایننشل تایمز "دورځپاڼې له خوا افشا شوي دي،اوس نو خپله فکر وکړئ چې دغه رپوټ څنګه حقیقت پیداکولای شي،او دکوم یو انسان منطق به یې ومني.

بل داچې د" فایننشل تایمز" ورځپاڼې ولې دهغو ملي غلو ،او غدارانو، له کړو وړ څخه نوم نه اخلي چې په رڼا ورځ کې،قتلونه، وسله والې غلاګانې،دخلکو په ناموس تیري، دمخدره توکو قاچاق،اوپه زرګونو نورو بې عدالتیو ککړ دي،آیا د رسنۍ آزادي اورسالت همدې ته وایي،بل داچې دغه بهرنۍ ورځپانه په لومړۍ سر کې لازمه ده چې دخپل هېواد نیمګړتیاوې را واخلي او خپرې یې کړي ،نه داچې دپردیو هېوادونو په چارکو کې دې لاس وهنې وکړي.

لاسوهنه هم بیا تر دې کچې پورې چې ،ملي ارزښتونه تر ګواښ لاندې راولي، د "فایننشل تایمز" دروڅپاڼي دغیر مسلکي کړنې ترڅنګ،افغاني رسنۍ په خصوصي ډول چاپي ورځپاڼې په غیر مسلکي خپرونوکې ،دمطالبو په خپرولوکې، بیاله " فایننشل تایمز" نه یوګام مخکې دي.

دکابل چاپي ورځپاڼې په دې لنډو وختونوکې په لوړه کچه له مسلکي ،او مطبوعاتي اړخونوڅخه وتلي دي،او داسې مطالب خپروي چې هغه د دوی تولیدي کړنې په ډاګه کوي ،چې له صفر سره برابر دي ،او دهغوی ټول مطالب ،یالیکنې له بهرنیو سایټونو، اویاهم له آژانسونو څخه اخیستل شوي دي،داسې هم شوي دي چې دکابل په یوشمېر ورځپاڼوکې غلا شوي مطالب،او عکسونه په اندولیز ډول په څو ورځپاڼو کې خپاره شوي دي.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

د" فايننشل تايمز" هغه درواغ روپوټ چې د دې خاورې ديوه غښتلي منصب دار"عليشا پکتياوال "،له کړو وړو څخه خپورشوی وو،په هما غه ډول افغاني ورځپانو هم خپور کړ،اويوڅه نورې اوتې بوتې يې هم ورسره زياتې کړې،راځئ چې لږ خپلو اعمالو ته هم نظر وکړو ولې پرديې تورې دخپلو ورنو په وژلو کې په لاس ونيسو،دغه ړنګه جونګړه دنورو خلکو په هڅه نه جوړيږي،اوجوړېدل يې پرما اوتاپورې اړه لري.

دبيان آزادي،درسنيو آزادي،او ورسره نورمطبوعاتي فعاليتونه په اوس وخت کې دهر يو ليکوال او ژورناليست ژوند له لويو ننګونو سره مخامخ کړی ، چې اصلي لامل يې همدغه دګوندونو پلوي کول،اوله وسله والو لورو سره مادي راکړې ورکړې،او دهغوی په خوښه حرک کول دي،که چېرته دافغانستان رسنۍ بې پرې او خپلواک فعاليت ولري هېڅ وخت له ماتې او ناکامۍ سره نه مخامخ کيږي.

په دېرې برخو کې دافغاني رسنيو کړه وړه له بهره څارل کيږي،او داهغه خبره ده چې ټولو افغانانوته معلومه ده ،که چېرې په افغاني رسنيو کې خپلواکي او څېپځلتيا موجوده وي هيڅ وخت " فايننشل تايمز"او داسې نورې ورځپاڼې په داسې ناوړه ليکنو لاس نه پورې کوي،دغه  ملامتي هم په افغاني رسنيو تپل کيږي،او افغاني رسنۍ به ترهغه پورې ناکامه وي چې خپله خپلواکي د رسنيو د قوانينو پربنسټ نوي حفظ کړی.

دلته غواړم دې ټکي ته اشاره وکړم چې بهرني مطبوعات هېڅ وخت نه غواړي چې، افغانان په خپل مينځ کې دوروری په ډګر کې عادي ژوند ولري، داغوښتنه نه يوازې داچې دبهرنيو مطبوعاتو ده بلکې دهغوي سياسي کړيو،او مشرانو لويه هيله ده چې پر دې ولس له بده مرغه په بيلابيلو نومونو تپل کيږي، زما په فکر پورتنيو نادريو سره دمبارزې لپاره ښه او غوره وصيله همدغه دافغاني مطبوعاتو صادقانه فعاليت دی.

زه په پای کې له ټولو مطبوعاتي ،حقوقي، اوټولنيزو بنسټونوڅخه غواړم چې د "فايننشل تايمز" په هغه رپوټ باندې چې دعليشاپکتياوال پرکړنوباندې خپور کړی،دنړيوالو قوانيونو په رڼاکې کتنه وکړي ترڅو حقيقت اوټولنيز عدالت تر پښو لاندې نشي.

که چېرته مونږ دهر يو افغان له حقوقو نه دفاع ونه کړو او دخپل هېواد دپت، اوعزت،ساتنه ونه کړو بهرنيان يې کله هم فکر نه کوي، اوهغوی تل هغه لارې لټوي چې په ترڅ کې يې افغان نان په بيلا بېلو نومو نو بد نامه کړي، او دنده  په لومړي سر کې رسنيو ته ورپه غاړه ده، چې بايد خپل دريځ وپېژني.

اوبل داچې له دې لارې مونږ خپله د دې خاورې غداران ،اوريښتني څېرې وپېژنو،او په همدې دول دهغوي څېرې او فعاليتونه چې په هره کچه وي خپل ولس ته  يې په ډاګه کړو ،نه داچې دبل په لمسون خپل ورور دمرګ کومې ته واستو.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de